دافغانستان اسلامي جمهوريت
دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون مطبوعاتي اعلامیه

کابل : ۱۳۸۹/۴/۱۰

۱. د ټاکنو قانون دغیر قانوني وسله والو ډلو د غړو کاندیدیدل منع کړي دي، او د ددغو نوماندانو د پیژندني په موخه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون تر مشرئ لاندې د کورنیو چارو وزارت ،ملي دفاع وزارت او ملي امنیت د استازو په ګډون د یو کمیسیون د جوړولو حکم کوي. د ورته نوماندانو د پیژندني وروسته د هغوی نومونه د ټاکنیزو شکایتونود کمیسیون په واک کې ورکړل کیږي او دغه کمیسیون په رسمي ډول ددغو نوماندانو د حذ فولو حکم کوي .

۲. په غیر قانونی وسله والو ډلو کې د کاندیدانو قوماندانې یا غړیتوب د چارو د څیړنو کمیسیون په لومړي سر کې د ۸۹ کسانو لیست ( وروسته په ۸۳ کسانوتصحیح شو) چې د نوموړي کمیسیون لخواه د شرایطو وړ نه وه، ترتیب او وړاندې کړ ،خو د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون چمتو نه وه ، مخکې له دې چې دغو کسانو ته د دفاع وخت ورکړ شي هغوی د لیست څخه حذف کړي.، د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لخواه دغو کسانو ته ۵ ورځې وخت ورکړ شو تر څو امنیتي ارګانونو سره اړیکه ونیسي او خپل ځان څخه دفاع وکړي. د تعجب خبره دا ده چې دغو ټولو کسانو داسي مکتوبونه وړاندې کړل چې د هغوی د بې ګناهي څرګندویي یې کوله .

۳. په غیر قانونی وسله والو ډلو کی د کاندیدانو قوماندانې یا غړیتوب د چارو د څیړنو کمیسیون په دې هکله خپل تعجب او بې اطمیناني په ډاګه کړه او په غیر قانوني ډلو کې د دغو کسانو د غړیتوب او یا نه غړیتوب په هکله ښکاره څرګندونې یې ونکړې او د دغو کسانو د نومونو او مکتوبونو لیست یې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته واستوه. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د نوموړي کمیسیون په قانوني اجراتو باندې چې په هره توګه وه ټینګار وکړ. د ټاکنو خپلواک کمیسیون په غیر قانونی وسله والو ډلو کی د کاندیدانو قوماندانی یا غړیتوب د چارو د څیړونو کمیسیون غوندې په لاره

واچولې  او د غیر قانوني وسلوالو ډلو سره  د تړاو په تور د ۱۳ تنو نورو کاندیدانو نومونه یې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته واستول.

۴. یو ځل بیا د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ټینګار و کړ چې دغو تورنو نوماندانو ته  باید پنځه ورځې و خت ورکړل شي تر څو خپل ځان نه دفاع و کړي-  که څه هم د نوماندانو د وروستي لیست د بشپړیدو لپاره  د ټاکنو د خپلواک کمیسیون وخت تیریده. په پایله کې ، د نویو پیژندل شویو نوماندانو له ډلې څخه یو شمیر یې چې ونشو کړای له ځان څخه دفاع وکړي د وروستي لیست څخه نومونه یې حذف شول .

۵. وروسته له یوې لنډې مودې ، چې د نوماندانو د وروستي  لیست د جوړولو لپاره لږ وخت پاتې شوی وه دغیر قانوني وسله والو ډلو سره د تړاو په  تور یو بل۲۶ کسیز لیست په غیر قانوني وسله والو ډلو کې د کاندیدانو قوماندانې یا غړیتوب د چارو د څیړونو کمیسیون له خواد شکایتونو کمیسیون ته واستول شو؛ او د یو لیک په ترڅ کې یې  لیکي وه ،چې دغو کسانو ته مهلت ورکول اړین نه دی او په دې هکله د هغوی پریکړه نهایي پریکړه ده .
د ټاکنیزو شکایاتونو کمیسیون د خپل لومړني پریکړې پر بنسټ بیا هم ټینګار وکړ چې که چیرې دغو کسانو ته د اساسي حقوقو په پام کې نیولو سره د دفاع حق ورنکړ شي ددغو کسانو نومونه به د لیست څخه حذف نکړي او همدارنګه تورنو کسانو ته د مهلت ورکولو غوښتنه یې وکړه .
د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د اریکې په ترڅ کې وویل شول په غیر قانونی وسله والو ډلو کې د کاندیدانود قوماندانۍ یا غړیتوب د چارو د څیړنو کمیسیون د پریکړې وروسته ۴۸ ساعتونو لپاره د وروستي لیست ځنډیدل د ټاکنیز تقسیم اوقات د کډودیدو لامل ګرځي ، خو د نوماندانو دشخصي ګټې د تعادل  او د هیواد د ګټې په پام کې نیولو سره  د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون پریکړه وکړه  چې نویو معرفي شویو کسانو ته دې ۴۸ ساعته وخت ورکړل شي تر څو  د خپل ځان څخه دفاع وکړي او د نوموړي کمیسیون  څخه غوښتنه وشوه چې دغه نوماندان ژر تر ژره  د دغې پریکړې څخه  خبر کړي.
۶. په تاسف سره چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په غیر قانوني ډلو کې د نوماندانو د د قومندانۍ یا غړیتوب د چارو د څیړنو دکمیسیون  د وړاندې شوي لیست د  ردولو صلاحیت نلري ،خو د هغو کسانو د نومونو حذفول  چې د دفاع حق نه وي ورکړ شوی مخکې هم د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون لخوا رد شوی وه، او بیا به هم رد شي.
که څه هم قانون ددغه نوماندانو لپاره متاثر شوی او د دفاع او استیناف غوښتنې لپاره ځانګړی حکم نلري ،خو د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون تل لار ښوونه کړې ده چې دغه تورنو نوماندانو ته د امکان تر حده پورې وخت ورکړ شي تر څو له خپل ځان څخه دفاع وکړي.
په پورتني ځانګړي برخه کې؛ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره په هماهنګی کې ددفاع وخت داسې وټاکل شو چې د ټاکنو عمومي تقسیم اوقات د خطر سره مخامخ نشي.

که چیرې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ډیروخت ولري، بې له شکه د ټاکنیرو شکایتونو کمیسیون په خوښی سره دغه موده تمدیدوي.

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون
شش درک
د افغانانو کوڅه
ستاره لیسې ته مخامخ
کابل، افغانستان

www.ecc.org.af